همکاری آلمان
DEUTSCHE ZUSAMMENARBEIT

# د افغانستان سره د آلمان همکاري
# مطبوعاتي خبر

## په کابل کې د افغانستان د استخراجي صنايعو د روڼتوب د نوښت مخکې ارزونه

کابل، د ۱۳۹۲ کال د غويي د مياشتې ۲۳ نيټه– پرون د افغانستان د استخراجي صنايعو د روڼتوب نوښت (AEITI) په هيواد کې د استخراجي صنايعو د روڼتوب د نوښت د سټنډرډ (Extractive Industries Transparency Initiative - EITI) د پلي کولو د پرمختګ يوه څېړنه پايته ورسوله. دا په استخراجي سکتور کې د روڼتوب او ښې حکومتوالۍ نړيوال سټنډرډ دی. نوموړې څېړنه د افغان-المان د همکارۍ د پروګرام له خوا د استخراجي صنايعو د روڼتوب د نوښت د نړيوال دارالانشا د استازو په مرسته، چې د ناروې د اوسلو په ښار کې موقعيت لري، جوړه او تمويل شوې وه.

د نوموړي نوښت مرستيال ښاغلي ايدی ريچ وويل: "دا د افغاني لوريو د پاره يو عالي فرصت دی چې خپلې لړۍ ته په ژوره توګه کتنه وکړي، خپل پرمختګ ووينې او د لومړيتوب سيمې د راتلونکو کارونو د پاره راوپيژني." ولسمش اشرف غنی، د ماليې وزير ښاغلي حکيمي، په دې وروستيو کې د کانونو او پټروليم نومول شوې وزيرې ميرمن نيهان، د المان د سفارت د پراختيا د څانګې مشر ښاغلي ګيلين او نړيوال مرستندوی سازمانونو لکه يو ايس ايډ او اروپايي اتحاديې او همدارزا د افغانستان د استخراجي صنايعو د روڼتوب نوښت د څوګټيزې ډلې غړو په نوموړې ارزونې کې په دې باب خبرې اترې وکړې چې څنګه د استخراجي صنايعو د روڼتوب نوښت کولای شي په افغانستان کې د استخراجي سکتور په ريفورم کې ونډه واخلي.

ولسمشر اشرف غني د ښاغلي ريچ سره په يوه دوه اړخيزه ناسته کې وويل چې په استخراجي سکتور کې د عوايدو کلني زيانونه لږترلږه ۳۰۰ ميليونو امريکايي ډالرو ته رسيږي. هغه زياته کړه چې "په استخراجې سکتور کې د عوايدو د لوړولو په موخه د دې سکتور د اصلاح کولو د پاره بيړنۍ اړتيا ليدل کيږي. مونږ بايد تامين کړو چې ټول تړونونه په مناسبه توګه صورت ومومي او د ټولو ولاياتو سره نږدې کار وکړو تر څو د صنعتګرۍ او د کوچنۍ کچې کان ايستنې فعاليتونه رسمي کړو. "

د استخراجي صنايعو د روڼتوب د نوښت سيمه ايز ډايرکټر ښاغلي پابلو وال ويردي داسې تبصره وکړه: "د افغانستان د استخراجي صنايعو د روڼتوب نوښت دنده لري چې د يوې وسيلې په توګه د درې اړخيزه ډيالوګ او ريفورم د پياوړتيا د پاره خدمت وکړي. "د استخراجي صنايعو د روڼتوب د نوښت استازو، مدنې ټولنې، خصوصي سکتور او د حکومت لوريو په ۲۰۱۴ او ۲۰۱۵ کلونو کې د استخراجي سکتور د وضعيت په باب د نوموړې ادارې وروستۍ ريپوټ چې د روان کال د اپريل په ۳۰ مه نيټه خپور شو وڅيړه. د پخلاينې په ريپوټ کې د تادياتو او توليد ارقام چې د حکومت او خصوصي سکتور له خوا برابر شوی دي، شامل دي. په نوموړې ريپوټ کې په موجوده ارقامو کې عمده خلاوي لکه د صادراتو ارقام رابرسيره شويدي او همدارنګه په دې خبرې ټينکار شوی دی چې حکومت بايد سکتوري اصلاحات پلي کړي تر څو د خپلو عوايدو د راټولولو نزولي ميلان را وګرځوي.

د دوشنبې د ورځې د اداري فساد سره د مبارزې په غونډه کې چې د اروپايې اتحادې له خوا په کابل کې جوړه شوې وه، ولسمشر اشرف غني ژمنه وکړه چې د عايداتي ورازتونو لکه د کانونو او پټروليم په وزارت کې اصلاحات ژور کړي. په دې غونډه کې لومړيتوبونو لکه د کان ايستنې د هغو تړونونو څيړلو او د امکان په صورت کې فسخ کولو ته اشاره وشوه چې د نړيوالو سټنډرډونو سره سمون نلري، د حکومت د پاره ګټور ندي يا بې له کومې کره کتنې څخه قرارداچيانو ته ورکړل شوي دي. د کان ايستنې د عملياتو د څښتنو په باب معلومات بايد راټول شي او خلکو ته برابر شي (ګټور مالکيت).

د ولسمشر د اجندا سره سم د کانونو او پټروليم نوې نومول شوې وزيره ميرمن نيهان نور نوښتونه وړاندې کړل چې په هغو کې د کانونو او پټروليم په ډګر کې د مشرتابه د نيمګرتياوو په اړه اصلاحات، د تړونونو د عوايد منجمنت او د افغانستان د منرالونو د قانون نوي کول شامل وو.

د استخراجي صنايعو د روڼتوب نوښت په يوه هيواد کې د نفتو، ګاز او منرالو د سرچينو د ادارې لپاره يو نړيوال سټنډرډ دی چې د حکومتونو له خوا د شرکتونو او د مدنې ټولنې سره يوځای پلې کيږي. هغه هيوادونه چې دا سټنډرډ کاروي د ماليې د تادياتو، جوازونو، تړونونو، توليد او د طبيعي منابعو د استخراج د نورو مهمو عناصرو په باب معلومات برابره کوي. افغانستان په کال ۲۰۱۰ کې د نوموړي نوښت په غړيتوب ونومول شو او د نوموړي سټنډرد سره د بشپړ سمونتيا په موخه به د اعتبار ورکونې د نورو لړيو څخه تيرشي.

***د افغانستان د استخراج په سکتور کې د المان د ښې حکومتدارۍ د ودې د کانونو او پټروليم د وزارت سره د ښې حکومتوالۍ د معيارونو پر بنا د کان ايستنې په څارنه کې مرسته کوي. دا پروژه د افغانستان د ملي پراختيا په ستراتيژۍ (ANDS) او د استخراجي صنايعو په عالي ملي پروګرام (NEIEP) او د افغانستان د سولې او ملي پراختيا په چوکاټ (ANPDF) کې ونډه اخلي. د دې پروژې فعاليتونه دادي: د نوموړي وزارت څخه ستراتيژيکي ملاتړ، د هغه وزارت د کارکوونکو او په ولاياتو کې د کان ايستنې د څارونکو د پاره ظرفيت جوړونه او د افغانستان د استخراجي صنايعو د روڼتوب د نوښت (AEITI) پلي کول***

Released by the PR-Unit of the German Cooperation with Afghanistan.
For further information please contact: pr-unit-afghanistan@giz.de